مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

روښان خادم

۲۰۱/۱۱/۲۳

# ملی وفاق، که ملی نفاق

ددنیا هوښیار،د وياړاو فخرنه ډک ملتونه د نړی دسیاسی ،اقتصادی، او نظامي سير او حرکت سره موازی حرکت کوی دخپل ملی حیات د بقا او ارتقا فکرونه کوی ستراتيژۍ او منظم پلانونه جوړوی ټولو نړيوالوسیاسی، اقتصادی،کلتوری،

ټولنيزو بدلونونودمطالعی تر سنګه خپل مستقل او ملی موقف تعینوی خودداسی هوښیاری سره هغه څه چي ملتونوته واقعی ملی قوت وربښی دطماع او استعماری قوتونو دتاړاک څخه يي ساتی هغه ملی يووالی ، پيوستون اوملی اراده ده .

که ووایم چي دملی يووالي جوړول او تحکیم د ملت دټولو پرګنو،علماو،او موثروشخصيتونو او دولت ګډ،مداوم،او دوامداره کار دی غلطه به نه وی . مونږ د يو ملت په حيث ديونوم وياړ اوبرم لاندی خپل موجودیت ساتلی اودوياړه ژوند موکړی دی، خو زه فکر کووم چي پورته ټولو خبرو باندی له سره فکر ضروری دی ځکه چي د دښمنانو او اجنبيانو دسایس او پلانونه دهری ورځی په تيريدو سره د هغوی د پټو اهدافو ، اغراضو او ستراتيژيو نويو پړاونو ته داخليږی که پرون يي زمونږ دورکيدو او مضمحله کولو په خاطرنوی ډلی منځ ته راوړی سبا ته دنورونويو مخربو ډلو جوړول هم ورته اسانه کاردی ځکه داستعمار او هدفمندو مداخله ګرانودسترا تيژيکو اهدافو دلاس ته راوړلو وسایل داوږدی مودی دپاره نه وی اود ضرورت او وخت سره سم يي بدلوی زه ددی احساس کووم چي دا موجوده وسایل نن وی که سبا بدليږی او نوی وسیلی به پکار اچول کيږی د وژنو چور او چپاول بنې او عاملين به هم بدل شی . خو ايا زمونږ مدبرين ، مقتدرين،مبتکرين او زمامداران دداسی يو حالت دمخنيوی دپاره کوم پلان او طرحه لری ؟ په صراحت سره ويلای شم چي دداسی يو پلان اثار نه ليدل کيږی ټول لګيا يو د بلا او خطر په باب خبری کوو او په دعا ګانو مصروف يو.

دتيرو ديرشو کالو دتاريخ حوادث يوځل بيا د مطالعی ايجاب کوی نو دا په څرګنده ډول وينو چي زمونږ سرنوشت يانور ټاکی اويا دنورو پوری تړل شوی دی د يو واحد،متشکل او غښتلی تاريخی ملت په حيث په ځان شکمن يو او حتی يو عده اجنبی پرسته او استخدام شوی افغانان مو په پوهه او ناپوهه حتی ملت نه بولی زمونږد تضعيفيدو، توټه کيدو اوورکيدو دپاره ډيرډير دسایس اوتذويرونه موجود شوی دی د مثال په توګه خپلو ملی مفاخروتاريخ ،علمی، فرهنګی افتخاراتو باندی فخرشرم ګڼو اوس لا دی خبری زوراخيستی چي ځينی ځان افغان نه بولی او ورڅخه انکار کوی . که دا رنګه دنفاق اوشقاق مسايل په ګوته کړم نو ليست به ډير اوږدشی تر دی ځايه ددی ليکنی مطالعه دوه عمده اومهم سوالونه په ذهن کښی خلقوی:

الف : ولی زمونږ ملی يووالي ضعيف او خطرونه ورته متوجه دی؟

ب : علاج څه دی؟

استعمار او مداخله کوونکی قوتونه هغه وخت په يو ملک کښی ننوتی شی چي هغه ښه ضعيف شی او دضعيفولو لومړنی نسخه په هغه ملت کښی د ملی روح ضعيفه کول دی او لومړنی کار دادی چي دملت ځوان نسل دخپل ملی هويت او افتخاراتو په باب مشکوک کړی او بيا ورته قلم ، اخبار،مجله،راديو،تلويزيون په لاسی ورکړی او دخپلو شکوکو په ليکنی،ترويج اوخپرونی پيل وکړی د ځوان او زوړ نسل ترمنځه کشمکش پيدا کړی واحده ملی مفکوره او



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

اراده متزلزله کړی ، ډلی او ګروپونه په همدی خبرو مصروف کړی اوپه نهایت کښی درزونه په فاصلو بدل شی او دملی شقاق د مرحلی دتطبیق زمینه مساعده شی اوپه یوویشتمی پیړی کښی د یو ملت د ضعیفولونوی طریقه اووسیله بین المللی اقتصادی تعذیراتو وضع کول دی چې عراق یې ښه مثال دی کله چې له پښو وغورزیده دمستقیمی حملی ښکارشودا ټولی خبری مونږ په خپل وطن کښی په څرګنده وینو او اورو . همدا دلیل دی چې نن دنړی په سیاسی ، اقتصادی، او فرهنګی ډګر کښی ددنیا دملتونو سره دسیا لیو جوګه نه یو په ګډه د پرګنو ، وګړواوقومونو په سطحه دملی یووالی ریښی وهو دخپل ورور،پلار،زوی مور او خور په وینودنورود ګټوژرندی څرخوو

ب: اوس علاج پکاردی تر پرونه ددغه ټولو ناخوالو ریښی مو د یو سالم حکومت دنه موجودیت په وجود کښی لټول دپنځو ورځوصدارت اود درمیاشتو جمهوریت هغه هم چې بل چا جوړ کړی وی په رښتیا هم دناخوالو حل نه بلکه زیږنده وه خو دی ننی حکومت هم دغه اساسی مسلی ته نه توجه کړی او نه کار. د مثال په توګه دسولی شورا ښه خبره ده خو دملی یووالی مسلی ته څه کارشوی اوڅه پلان موجوددی؟ په میلیونوډالرهرکال دسولی شورامصرفوی څو ډالره ملی یووالی داستحکام دپاره ترننه مصرف شوی ؟ سوله لومړنی ضرورت دی خو یو متشتته ټولنه دچا سره سوله کولی شی ؟ دا موضوع جلا اوږد تفصل اوتحلیل غواړی خو زما هدف دادی چې ملی یووالی ته باید بیله او ځانګړی پروژه ایجاد شی څکه ددغه خلا دموجودیت له امله نورو مداخلودپاره نوی دراوزی جوړیږی او خلاصیږی خو هیڅ ډول قانونی مخنیوی یې نه کیږی . دخلکو دنږدی کولو او دملی وفاق د فضا جوړولو په خاطر په اوسنی وخت او شرایطو کښی دملی نفرت خپریدل منع او خپروونکی یې باید دقانون منګولو ته وسپارل شی . دملی یووالی د ټینګیدو مسله باید دټولوخبرو په سر کښی د یو تطبیقی قانون په چوکاټ کښی ترسیم شی او ټول هغه اعمال ویناوی او افکار چې دملی نفرت سبب کیږی دمجازاتو وړوګڼل شی خو ددی کار دپار دقانون حاکمیت لومړنی شرط دی . په کانادا او ډیرو اروپایې هیوادونو کښی دا کار شوی او خلک یې دسولی په ارامه فضا کښی ژوند کوی او داسی یو ژوند دهر افغان طبعی حق او ایجادول یې دحکومت او دولت وظیفه ده

د فیس بوک په مخ مې د ډاکټر صاحب بزګر له خوا ولوستل چې ګوندی پارلمان فیصله کړی چې ټولی دولتی اداری دی داحمدشابابا او میرویس نیکه په عکسونو مزین شی نو دا لاندی څو کرښی هم ولولئ شیر یې کړی او خپل نظرونه پری څرګند کړې

دا فیصله ډیره درنده او دقدر وړ ده . د ډیر پخوا څخه په دی فکر وم چې څرنګه کیدی شی د ستر امپراطور اعلیحضرت احمد شاه بابا علیه الرحمه د تاجپوشئ ورځ په افغانستان کښی د میلی یو والی دورځ په نامه عمومې رخصتی و ګڼل شی څکه مونږ ټول د ملی یووالی د ټینګیدو او استحکام په خاطر یو ملی محورته ضرورت لرو چې ټول پری راټول شو اودا ورځ همدغه محور دی . له همدغی ورځی وروسته احمدشاه بابا علیه الرحمه د افغانستان ټول قومونه په یوه واحد مرکز سره راغو نډ کړل پښتون ، تاجک ، هزاره ، ازبک ، او نورو قومونو څخه یې مخور او په کار پوه خلک په وزارتونو مقرر کړل او دیو قوی واحد اومتحد ملت د جوړیدو بنیاد یې کیښود چې د لوی افغانستان جوړیدل ، ترقی ، دظلم مخنیوی ، دخاوری تمامیت او استقلال یې غایه وه .

که غلط نشم تقریبا شل کاله وړاندی د احمد شاه بابا علیه الرحمه دوفات څخه وروسته زه موفق شوم چې د لومړی ځل دپار دا بختوره ورځ د افغانستان ملی غږ راډیو له لاری په لویه سطحه ونمانځم ، دری کاله مې دا کار وکړ او په څلورم کال مې دا ورځ په تورونتو کښی د اسیدونکو افغانانو په مرسته په یوه ښکلی تالار کښی د یوه جشن په شکل ونمانځله . له هماغه ورځی زما هدف دا و چې یو وخت دا ورځ په افغانستان کښی عمومې رخصتی او ملی جشن وی . څو کاله مخکښی چې د پارلمان لومړی دوره وه ما په دی خبره کار پیل کړ خو د پارلمان وکیل صاحبان دی خبری ته حاضر نه وو . بیا می څو کاله وړاندی دا موضوع هغه غونډی ته چې د علامه خادم بابا د وفات نولسمې کلیزی او دهغه د څو جلده نویو چاپ شوو اثار په خاطر دکابل په پروان هوټل کښی جوړه شوی وه د یو بل وړاندیز سره چې هغه د ښاغلی عبدالله بختانی خدمتګار په برخه کښی و چې د پښتو ژبی د شپږم ستوری په حیث و پیژندل شی وړاندی کړ د غونډی ګډونکوونکو په اکثریت سره زما وړاندیز و مانه او بحثونه پری وشو .

اوس ډیر ښه وخت دی چې یو عده ورونه زحمت وکاږی او ددی وړاندیز دتحقق دپاره کار وکړی . نو زما یوه ارزو به پوره شی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ